# برهان الدين رباني



برهان الدين رباني

برهان الدين رباني په ١٩٤٠ کال په بدخشان کي زېږېدلئ دئ. وروسته تر دي چي د ابو حنيفه په دارالشريعه مدرسه کي يې خپلي زده کړې تر سره کړې د کابل په پوهنتون کي يې حقوق و لوستل. په ١٩٦٣ کال کي د کابل پوهنتون څخه فارغ سو او هلته يې پدغه پوهنتون کي د استاد په توګه دندي ته دوام ورکړ.

په ١٩٦٦ کال کي يې د مصر په هيواد کي د الازهر په پوهنتون کي په لوړو زده کړو پيل وکړ چي په ١٩٦٨ کال کي د هغه پوهنتون څخه فارغ سو.



په ١٩٧٢ کال کي د اسلامي جمعيت د ګوند مشر سو.

برهان الدين رباني په ١٩٩٢ کال کي کله چي د صبغت الله مجددي د حکومت دوي مياشتنۍ دوره سر ته ورسېده د چارو واکي په لاس کي واخيستې او تر هغو پوري يې دوام ورکړ تر څو چي طالبانو کابل و نيوئ.

د ده په دغه پنځه کلنه دوره کي په کابل کي ډېري خونړۍ جګړې را منځ ته سوې چي په نتيجه کي يې دغه ښار ډېر زيانمن سو.

کله چي طالبانو کابل و نيوئ نو برهان الدين رباني د هيواد په شمال کي د يو شمېر نورو ګوندونو او ګروپونو سره د شمال اتحاد جوړ کړ.